# (د مبارزې څلی )

انقلاب د اوښتون او بدلون تر ټولو ځواکمنه او سخته لاره ده ،
د نړی ګڼې بدلونونه پرمختګونه ، انسانی ارزښتونه، ټولنیز
باورونه او بریالی ملتونه د انقلاب پایلی ګڼلی کیږی

خو انقلابونه څنګه راتلای شی؟ څوک د انقلاب راوستلو جوګه دی؟
سنګه بریالی انقلابونه ممکن دی؟ دا او ګڼې نور سوالونه د چیګویرا
چریکی جنګ کتاب کې لوستلی شي.

یاسر هشام پخپل زیار د نړی انقلابي ستوري د چریکی جنګ او ژوند
اړخونه راڅیړلی چی د نړی ګوټ،ګوټ کی تری ځوانانو ګټه پورته کړی
ځوان کهول د همدې [illegible] چپنیالي،
نظام او هېواد ته بدلون په نصیب کړی دی.

چیګویرا په اړه د هغه نژدی مبارزي ملګری فیدرل کاسټرو
(1967)وایې:که مونږ وغواړو چی دداسې کس په اړه خبری وکړو

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوموږ په ننی پیړی پوری نه بلکلې راتلونکي پوری اړه لری، نو هغه کس چیګویرا دی. زه په ټول درنښت ویلی شم هغه کس چی په شخصیت یې هیڅ داغ، هیڅ نیوکه نشی- کیدلای هغه چیګویرا دی. فیدرل کاسټرو دا خبره هغه وخت د چیګویرا په اړه وکړی کله چی دی په هاونا، کیوبا کې خبر شو چی دده د سنګر او مبارزی ملګری یی د بولیوا په ځنګله کې وژل شوی دی

هر انقلابي باید د ډېر علم څښتن وي ، هغه څوک چې انقلابي فکر او احساس لري باید د خپل چاپېریال او معاشري ښه درک وکړي او خپل هدف روښانه کړي.

چه ګوارا یو عادی سړی و، خو فکر یې ډېر متفاوت و، هغه په خپل شاوخوا چاپېریال کې ظلم او بې عدالتی نهایت تنګ کړی و او هغه په عدالت سمباله نړۍ ارمان وو.

چه ګورا له کتابونو سره یې ډېره مینه درلوده او دنړیوالو پوهانو زیات شمېر کتابونه لوستي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (چریکی جنګ)

چريکي جګړه يو ډول غير منظم جنګ دی چې په هغه کې د ټوپکيانو يوه کوچنۍ ډله تاکتيکونه کاروي لکه برید، تخريب، د يرغل جګړه، سپنر تاکتيکونه، او د چټک بې ځایه کيدو لپاره چې په لوی، لږ ګرځنده نظامي ځواک برید وکړي او سمدلاسه د جګړې ډګر ونيسي. دوی پريږدي.



د ناپلئون په وړاندې د هسپانوي چريکي جګړه په 1808 کې د لومړي ځل لپاره د ګوريلا جنګ کلمه وکارول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چريکي ډلې سرتيرى د چريکي ډلې په نوم ياد شوى. په عصرى وخت کې، د چريکي جګړې اصطلاح په عامه توګه د اشغالى ځواکونو په وړاندې د ملېشه ډلو د وسله وال مقاومت په حواله کارول کيږى.



د مى په 3، 1808 د فرانسيسکو ګويا لخوا انځور شوى انځور د ټاپووزمې په جګړه کې د ناپليئون د ځواکونو لخوا د هسپانوي چريکي ډزې انځوروي.

د تجميد او د تشيال جګړې اصطلاح هم په همدې معنا کارول کيږى. دا اصطلاح هغه تاکتيکونه هم منعکس کوى کوم چې کوچنى ځواکونه د لوى ، زيات وسله وال او لا زيات لوژيستيکى ځواکونو په مقابل کې غوره کوى. د چريکي جګړې تاکتيکونه په عادى توګه د دښمن د ځواک د کوچنيو واحدونو د نورو څخه په جلا کولو او بيا د کمين له لارې په هغوى بريد کولو باندې تکيه کوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چریکي  ځواکونه په عادی توګه د جاسوسی ، صنعتی سبوتاژ او روانی تبلیغاتو څخه کار اخلی، او ځان د یو عام خو د فشار سره مخامخ سیاسی حرکت په توګه وړاندې کوی. د نړۍ په ډېرو سیمو کې سیمه ییزې ډلې د حکومتی ځواکونو پر وړاندې له چریکې جګړې څخه کار اخلی. دا تکتیکونه په ځانګړی ډول په ناهماهنګو طبیعی سیمو لکه ځنګلونو کې اغیزمن دی کوم چې د چریکانو طبیعی پټنځایونه چمتو کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (ارنیستو چه ګوارا )



هغه انځور چې البرتو کوردا د ۱۹۶۰ کال د مارچ په ۵ مه اخیستی دی

(لنډ ژوندلیک)

چه ګوارا چی بشپړ نوم یی(ارنستو رافایل ګوارا دلاسرانا) دی، انقلابی مارکیسیست او کیوبا د چریکي جګړو رهبر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۲۸ز کال د(مې)میاشتی په څوارلسمه د ارجنټاین هیواد په دوهم لوی او مهم ښار (روزاریو) کی په یوه اسپانیایی-ایرلینډی کورنی کی زیږیدلی دی.

او د نړی غیږې ته د یوه انقلابی په توګه را لویدلی دی دا دخدای لورینه وه په هغه ملتونو او بې وسه خلکو چی تل یې سترو ځواکونو او مشرانو د سیالی په ډګر کې بې خونده او بې مزې ژوند تیر کړی و.او تل د ظالمانو په لوبو کی دوي قربانی شوي و.

چه ګوارا د هغو خلکو لپاره ځانګړې ډالی وه چې له غربت او بې وزلۍ ځوریدل کورنی یې کېڼ اړخې جمهوریت غوښتونکې وه. له دې کبله دی له ماشومتوبه اړ وو چی سیاسی فکر ولری.

نوموړي دوه ورونه او دوی خویندې درلودې چی دی پکې ترټولو مشر و.

پلار نوم یې (ارنېستو ګوارو لېنچ) او مور یې(سیلیا دلاسرانا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومېده چې دواړو يې له سترو او شتمنو کورنيو څخه وو.

نوموړي له ماشومتوبه يوه تنفسی ناروغي درلوده له دې کبله يی مور څو کاله ښوونځی ته ونه لېږله او په کور کې يې درس ورته وايه، د چه ګوارا سره دا ناروغي د عمر تر پايه مل وه او نوموړی يې ډېر زيات

وکړولو.له څه مودې وروسته يی ښوونځي کی خپل درس پيل کړ په ښوونځي کې نوموړی په خوړ مشهور و، ځکه توند او بی رحمه خوی يې درلوده ده به تل د خپلو ټولګيوالو او همزولو په منځ کې ده يو مشر-او رهبر رول لوباوه.

دراګبي سطرنج او فوټبال لوبه به يې ډيره کوله او تر څنګه يې د نړی بيلابيلو مشهورو او سياسي څېرو کتابونه هم لوستل

چی مشهور يې ترې(کارل مارکس، اندري ګايډ، والټ وايټ مېن، مينه او هېواد پالنه، د جګ لندن ټولنيز کتابونه، دنيچه د ژوند په اړه) او د وخت نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومورې په ډېر کوچنیوالي  کې کې له خپل پلار څخه سطرنج لوبه زده کړې وه او په کم وخت کې د سطرنج لوبې مشهور لوبغاړی ونومول شو چې په زیاترو لوبو کې به یې ګډون کولو.چه ګوارا په یوه شتمنه کورنۍ کې وده وکړه.

دی د ارجانټاین هیواد و خو دده په اند ده ته یو  هیواد او وطن مهم نده ده به ویل:زما ځانګړی هیواد نشته زما وطن هغه دی چیرته چې انسان نه انسانیت ته احترام کیږی چیرته چې مینه وي او د کرکې وړانګې نه وی خورې

ګوارا یو طبي ډاکټر، لیکوال،ډیپلومات،فوځي نظریه ورکونکی او سر سخت مارکیسیست و.

په ۱۸۴۸ز کال کې یې د ارجنټاین(بوئنوس ایرس)پوهنتون  د درمل پیژندنې او داکټرۍ برخې ته لاره ومونډله او په همدې پوهنتون کې یې خپل تحصیلات پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوارا ازاد فکر درلود او خوښول به يې چې چکر ووهي ،او د ملګرو سره تفريح وکړی.

ده په وخت ناوخت به د پوهنتون په رخصتيو کې په چکر ووت او سيمی به يې لېدلې خو ده دتحصيل په لړ کی يو کال رسمی رخصت واخيست او په ۱۹۵۳ز کال جولای مياشتې په اوومه نوموړی د خپل يو ملګری(البرټو ګراناډو)سره چی ساينس پوه،ډاکټر او ليکوال و د لاتيني امريکا ځينو سيمو ته په يو ۵۰۰ سی،سی

موټر سايکل سفر پيل کړ. دوی ۸۰۰۰کيلومتره مزل په نهه

مياشتو کی وکړ چې (ايکوادور، کولمبيا، وينزويلا،پاناما او ميامی)ښارونو او هيوادونو څخه يې ليدنه وکړه. چی دغه سفر دده لپاره ډېر ګټور و، ځکه ده دخپل هيواد او خلکو ستونزې او مشکلات له نږدې وڅارل،ويې ليدل چې خلک يې په څومره ناچاریَ او بی وسیَ کې ژوند کوي.له نږدې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل چې د لاتیني امریکا خلک څومره بې سواده او ناچاره دي، همدا سفر و چې د چه ګوارا برخلیک یې وربدل کړ او د نوموړي ژوند ته یې یوه بل رنګ ورکړ، چه دا وخت که څه هم په ځوانۍ کې و خو دغو ټولو ناخوالو دده په فکر ژور اغیز وکړ چې همدا لامل له ګوارا څخه د یو انقلابی د جوړېدو ټکی ښیي ددې ټولو بدمرغیو لامل یې د وخت موده (دیکتاتور نظام )باله

ده دمشهور فېلسوف ،تاریخ پوه اقتصاد پوه تکړه ژورنالېست او سوسیالیست انقلابی شخصیت (کارل مارکس)کتابونه او تګلاره مطالعه کړې وه نو ځکه یې دمارکسیزم په اړه زیاته مطالعه درلوده همدا مطالعه ددې لامل شوه چې چه ګوارا دې ټولو بدبختیو ته د مارکس له زاویې وګوري نو دټولو ستونزو او بدمرغیو حل یې یوازې په وسلوال انقلاب کې لیدلو، او په زړه کې یې همدا فکر زرغون شو.

خو لا یې وخت نه و چه ګوارا بیرته ارجنټاین ته راوګرځیده خپلې پاتی زده کړې یی په ارجنټاین (بوئنس ایرس)پوهنتون کې بشپړې کړې او د هیلدا په نوم یې له یوې انجلۍ سره چې د اقتصاد متخصصه وه واده وکړ. ده درمل پیژندنې په برخه کې ښې زده کړې کړې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یو شپږ میاشتې شاوخوا یې په یو روغتون کی کې د ډاکټر په صفت په ډیر کم معاش کار وکړ له ماشومانو سره یې ډېره مینه وه او د بې وزلو ماشومانو به یې درملنه هم وړیا کوله. ده د شپږو میاشتو لپاره ډاکټر پاتې شو خو

نور یې په خپل مسلک کې کار ته زړه ونه لګید، د چه ګوارا شخصیت انقلابي و،او دې فکر ارام نه پریښوده همدا لامل وو چې نړی د پیښو د پلټولو په پار بیرته په سفر ووت(پاناما، بولیوا، هندرس،السوادور) هیوادونو ته یې سفرونه وکړل او بلاخره په ګواتمالا کې تم شو

د ګوارا په یاد هیواد کې نیردې شپږ میاشتې کېدې چې د ګواتمالا رابنز حکومت د امریکا له لوری سقوط شو او د وخت نظام ددوي په لاس کې شو چه ګوارا چې دا ټول حالات په خپلو سترګو مشاهده کړل نو دی پایلې ته ورسید چې امریکا تل د خپلې نیزې څوکه هغه هیوادونو ته وروړي چې د ټولنیزو محرومیتونو د هواري لپاره هڅې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه باور او نظر د چه ګوارا د سوسياليټی مفکورې اصلي نچوړ او لنډيز و او تل يې په خپلو ليکنو، خبرو کې دې موضوع ته لمن وهله. هغه تل د متحده ايلاتو په ضد و او هغه يې په سيمه کې د ټولو ستونزو لامل ګڼله.

چه ګوارا په ګواتمالا کې د شوې کودتا نه وروسته چې دی لا هم هملته و يو انقلابي فکر وکړ او د مبارزې لپاره يې چمتوالی وښود او غوښتل چی په داسې نازک حالات کې چی حکومت له کودتا لاندې و حکومت او خلک په ستونزو کې ګير وو د ګواتمالا په ملاتړ د امريکا ايلاتو په وړاندې توند غبرګون وښيي او اجازه ورنکړي چې د چارو واکي يی ترې واخلي خو ده له حکومت وغوښتل چې په دې فکر کې ورسره همغږی شي خو د ګواتمالا حکومت(رابنز)چې د امريکا لخوا يې ملاتړ کېده او تازه سقوط شوی و

دده د ملاتړ پرځای دده دهيواده د ايستلو او جلا وطنۍ پريکړه وکړه. چه ګوارا چې د وسلوال انقلاب راوستل ورته ناممکن ښکاره شول او د خلکو او حکومت له حالاتو خبر شو چې هيڅکله به مبارزی ته زړه ښه نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ګواتمالا څخه ووت د مکسیکو په لور یې سفر وکړ په مکسیکو ښار کې یې (فدرال کاسترو) ورونه یې په داسې حال کې ولیدل چې هغوی هم د ورته مبارزې او تفکر له امله له کیوبا څخه تبعید شوي و او ددې هیواد څخه د بچ کیدو لپاره په مکسیکو کې میشت و، چه ګوارا هم ورسره یوځای شو دوي په دې صلاح شول چې ترڅو د یو څه وخت لپاره مکسیکو کې پاتې

شي بیا په یو قوي پلان سره د کیوبا(باتیستا) حکومت راوپرځوي خو دوی ډیر ژر دمکسیکو حکومت لخوا ونیول شول او د تورو تمبو شاته بندیان شول.

څه وخت وروسته چې کله مکسیکو حکومت (فدرال کاسترو)او ورور یې خوشې کړل کاسترو د چه ګوارا پرته له زندانه د وتلو انکار وکړ که څه هم چه ګوارا غوښتل ترڅو کاسترو بهر لاړ شي

او د کیوبا په وړاندې د انقلاب پلان پر مخ یوسي خو فدرال ویل چې یا به زه او ګوارا یوځای وځو او یا به هیڅ نه وځو دوي یو څه مودې لپاره بندیان و خو بیا حکومت دوی دواړه ازاد کړل. فدرال او چه ګوارا کیوبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په پټه لاړل او هلته د (باتیستا )نظام د رانسکورولو لپاره د انقلابیانو د راټولولو په حال کې و، دوي په دوولس سرتېرو انقلاب شروع کړ چې وروسته دغه بهیر د جولای د شپږ ویشتمې په نامه هم یادیده.

په ۱۹۵۶ز کال کې چه ګوارا د یو ډاکټر په توګه د فدرال کاستړو په مشرئ د اتیا کسه جنګیالو سره د کیوبا هیواد په ساحلی غاړو کې د برید لپاره پلی شو، ترڅو د کیوبا نظام را ونړوي او کمیونیستي نظام اعلان وکړي په دوی کې یوازې چه ګوارا غیر کیوبیایی وګړی و. خو د کیوبا حکومت هم عملیات کول هغوي ددوي له پلانه خبر شول ژر تر ژره یې جنګیالي ولېږل چې مخه یې ونیسي. چه ګوارا او کاستړو چی څه پلان درلود هغسې ونه شول

د کیوبا هیواد پروړاندې ددوي چی نظام یې ونړیږي شدیده جګړه پیل شوه چه ګوارا چې تر دې دمه د یوه ډاکتر په توګه ددوي ملګری وو خپله دشا پڼده چې په هغه کې درمل و په ځمکه کېښوده او د خپل وژل شوي انقلابي ملګري وسله یې راواخیسته چې دا شیبه دده له ډاکتر څخه په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګيالي د بدليدو ټکی ثابتوي ، دا جنګ د کيوبا په ګټه تمام شو د انقلابيانو ډېر شمېر سرتيري د مهماتو له کمښت سره مخ و چې ووژل شول د چه ګوارا او فډرال کاسترو په ګډون يوازې څو کسه جنګيالي روغ ترې ووتل. او د دي هيواد (سيرا مايسترا)لوړو غرونو ته پناه يوړه.

دوی درې کاله پاتې شول او دا هغه موده وه چی چه ګوارا پکې ډير وځورېد هغه ليکلي: (زما بدن د مچيو له چيچلو سره حساسيت درلود او يو ډېر بد سوی به می حسولو هغه غرونو کې چې مونږ اوسېدو ډېرې زياتې مچۍ وې او مونږ ورسره ډير مخ کېدو چی ځان ساتل ترې سخت و)

چه ګوارا او څو کسه جنګيالي هلته د ځايي خلکو له خوا حمايه کېدل او د خوراک لپاره به يې ښکار کولو. ده له همغه ځايه بيا انقلاب تيتې چيغې ته شور ورکړ ، او د جنګيالو د جذبولو په لټه کې شو په خپل قوي سياست او پاليسۍ يې ډېر ژر وکولای شول ترڅو خپل مات فوځ له سره ورغوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بلاخره د پرلپسيې جګړو او مبارزو په پایله کی دوي په ۱۹۵۹ز کال کې وتوانیدل چې د باتیستا نظام نسکور کړي او کمونیست حکومت اعلان کړي.

چه ګوارا د کاسترو د کمونیست دولت په جوړولو کې مهم رول ولوباوه ،او د باتیستا نظام يې ورته وپرځاوه دا وخت نوموړي د کیوبا هیواد تابعیت هم ترلاسه کړ او د خپلې پخوانۍ میرمنې( هیلدا) څخه جلا شو

او د کیوبا فوځ ديوی سرتېري (آلیدا مارچ ) سره يې واده وکړ چې له هغې څخه د (الیدا، کامیلو،سیلیا،ارنیستو) په نومونو د څلورو ماشومانو پلار شو.

ګوارا له نادرې زړورتیا او جنګي فونونو کې ځانګړې زړورتیا سره ډیر ژر فدرال کاسترو ترتولو بنه او اعتماد وړ سرتېری وشمیرل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوارا له ډیرو مهمو کارونو  څخه یو دا هم و چې د تور پوستو او سپین پوستو د تفریح او لمبا ځایونه دده په امر سره یوځای شول، په داسې حال کې چې تورانو ته په ډېر ټیټ نظر لیدل کېدل ، او دواړو ډلو به یې له یو بله نفرت کولو، خو چه ګوارا په دې ډول د هغوي ترمنځ مساوات پېل کړل او تر ډېره حده پکې بریالی وو.

نوموړی په خپلو وعدو او افکارو ولاړ سړی و، چې د(امپریالیزم،کپتیالیزم،انحصار...) په خلاف و، خو د کمونېزم په فلسفې یې باور  درلود. هغه د غربت او بې وزلۍ څخه پاکه نړۍ غوښته نوموړي د فدرال کاسټرو په حکومت کې د فوځي قومندان ، د ملی بانک د رییس او صنایعو د وزیر په توګه سترې دندې ترسره کړي.



چه ګوارا لاسلیک

کاپیتالیستي اقتصاد پر سوسیالیستی صنعتي اقتصاد بدل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ګوارا يو زړور او ياغي شخصيت درلود، هغه به ويل :د نړۍ په هر کونج کې د خپلو حقونو لپاره راپاڅيدلي خلک زما د فکر ايډيالوژۍ ساتوونکي دي

کيوبا په يوه نوې کيوبا بدله شوه نظام بدلون وکړ او کيوبا د ارام ساه واخيسته...



د برازيل ولسمشر ګيانيو کوادروس ګوارا ته د سويلي صليب جايزه ورکړه.

چه ګوارا چې په کيوبا کې انقلاب د بشپړ برياليتوب په حال کې وليد نو ويې غوښتل چې دا مبارزه پراخه کړي او تر نورو هيوادونو چې تر انحصار او ظلم لاندې دي ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يوځل بيا يې د سفر تکل وکړ فدرال کاسترو په کيوبا کې تم و او له چه ګوارا يې هم وغوښتل ترڅو نور له انقلاب لاس واخلي او په کيوبا کې د خپلې خوښې ارام ژوند وکړي.

خو چه ګوارا غوښتل چې ورته مبارزه له ملي کچې څخه نړيوالې کچې ته ورسوي،هغه غوښتل چې هر هيواد يې د ازادۍ غوښتوونکو لخوا اداره شي،هغه غوښتل چې نور هيڅ يو ماشوم له لوږې ونه مري او د انسانانو په ژوند. کې مساوات عملي شي نو له همدې کبله په کيوبا کې ډېر تم نه شو او کيوبا يې پرېښوده.

چه ګوارا د يو خطرناک تصميم نيولو څخه وروسته د افريقا لويديځ ته سفر وکړ.

موخه يې د خپلو تجربو شريکول وو له هغه کسانو سره چې په کانګو کې يې د انقلاب هڅې کولې چه ګوارا په دې باور و چې افريقا (کانګو) د يو ضعيف امپيرياليستي نظام په درلودلو د يوه لوی انقلاب وړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصر-ولسمشر

جمال ناصر چې د چه ګوارا سره یې لیدلې و او د ورورۍ اړیکې یې ورسره لرلې؛ دګوارا پلان د کانګو جګړې لپاره ناکام وباله.

ده ته یې سپارښتنه وکړه چې خپله خبره د افریقایي تورزن په بڼه مه اړوه او په دې جګړه کې به ماتې وخورې هغه په لومړي سر کې کانګو ته لاړ او هلته یې چیریکي جګړو پلویان راوپارول.

چه ګوارا به چې چرته تلو هلته به یې چیریکي جګړو او انقلاب اور لګاوه، دخپلو مفکورو او انقلاب په اړه غږېدو او د ازادۍ ذهن یې په خلکو کې عام کولو...

ده به چې چیرته هم پل کېښود د انقلاب د اور به لمبې پورته کېدې او د مفت خورو تر لمنې به رسیده، د هغه د انقلاب چیغه د ازادی چیغه وه د غلیمانو پر وړاندې د مبارزې چیغه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي چې په کانګو کې فکري ملګري او مبارزين پيدا کړل او د انقلاب اور يې ولګاوه نو له دې هيواده ووت.چه ګوارا بوليوا ته سفر وکړ او هلته د چيريکي جګړو پلويان او مبارزين سره يوځای شوو.

هلته يې د خپلو انقلابی ملګرو او مبارزينو سره يې په انقلابي کارونو کې لاسوهنې کولې ،خلک يې ظلم څخه ايستل او د سپين سهار په لور تلو ته يې چمتو کول

چه ګوارا نه يوازې چی جنګ او زور څخه کار اخيست بلکې د جګړو نورې پاليسی يې هم زده وې هغه به ويل:ازادئ ترټولو ډيره دهغو کسانو له خوا ګوزار خوري چې هغې ته د رسيدو لپاره لنډې لارې ټاکې.

په بوليوا کې هغه ډېر وخت تير کړ ترڅو موجوده نظام را ونړوي،هغه مياشتې په يوه غره کې خپلو ملګرو سره مېشت وو، د بوليوا ځنګلونه ډېر پيچلي وو چه ګوارا په خپلو يادښتونو کې بار ، بار ددې يادونه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مونږ لومړی ځان ته لاره صفا کوله او بیا به تلو، په دې ځنګل کې چه ګوارا ډېرې بدې خاطرې درلودې ، د هغه تنفسي ناروغي زیاته شوې وه

او درمل یې ختم شوي و هغوی د پاکو اوبو له کمښت سره مخ و د چه ګوارا په وینا مونږ به ډیر کله چټلې اوبه څکلې چې زیات انقلابیان ترې ناروغان هم شول ډیر ملګري یې اوبو او سیلابونو یوړل، یو شمېر یې له لوږې مړه شول.

چه ګوارا لیکي چې ما شپږ میاشتې وروسته ځان ومینځه ویښته او ږیره خو مې له اصلاح وتلي و.

چه ګوارا په یوه پوره مانا انسانیت ته ژمن و ظلم، ناروا بې عدالتي یې نه شوای زغملی د هغه انسانیت ته ژمنتیا هغه وخت مالومه شوه

چې هغه په مکسیکو کې پاتې نه شو او د انقلاب او انسانیت ژغورلو لپاره له کاسترو سره انقلاب ته راغی، په انقلاب کې یې ډېرې ستونزې وزغملې خو بلاخره یې د غریبانو مرۍ د شتمنو له رسۍ خلاصې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له انقلاب وروسته هغه په کیوبا کې ښه ارام ژوند درلود خو د هغه سرشاره فکر هغه په ارام نه پرېښوده همدا لامل و چې نوموړی له کیوبا هم ووت.

چه ګوارا د انسانانو د مساوات او برابري لپاره ډېرې هڅې کولې.

خو ولسمشرانو،جنرالانو، کشیشانو او ورته نورو لاس پوڅو ډلو دهغه په نوو سره ځانونه بایللي ول، او دهغه د ژر مرګ هیله یې کوله.

مګر نه نور مردکي څه کولای شول،نه توپ،نه ټانګ،نه جلا وطني او نه جنرالانو او کشیاشانو ګواښونو کومه ګټه کوله،

له وینزویل څخه ارجنټاینه پورې یوازینی غږ د چه ګوارا و،یوازینی غږ د مبارزې او وسلوال انقلاب و.

خو دوښمنان یې هم ارام نه کیناستل پرلپسې یې هڅې کولې ترڅو دا هسک پروازه عقاب را وغورځوي، ځکه چې د چه ګوارا په شتون کې دوي ارام خوب نه شوای کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلا او لوټمارۍ یې په خطر کې وې،او پانګې یې له لاسه وتې.

خلکو هم ورو، ورو پوهیدل او دې پایلې ته رسېدل چې کولای شي د مفتخوارو غلو ولسمشرانو او مشرانو پرځای د خپل هیواد چارې په خپله سمبال کړي.

همدا لامل و چې د چه ګوارا دوښمنان چې په سر کې یې امریکا وه سره متحد شول، ځواکونه یې د چه ګوارا په لټون پسې واستول او د هغه سر په بدل کې یې پنځوس زره ډالر انعام وټاکه.

چه ګوارا په خپلو فعالیتونو بوخت و او په یوه تنګه دره کې ایثار و غوښتل یې چې د شپې تر تیارې خپریدو پورې انتظار وکړي او بیا له دې تنګې درې ووځي

خو بلاخره په ۱۹۶۷ز کال کې د هغه مبارزینو ملګرو پټنځای د یوه شپون دجاسوسۍ په وجه په ډاګه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بولیوا هیواد یوې شبکې د امریکا په ملاتړ پرې زورور عملیات وکړل، دچه ګوارا سره چې کوم نږدې کسان وو ټول یې د سترګو په وړاندې ورته ووژل.

څنګه چې د چه ګوارا د. ملګرو شمیر کم و د مقاومت وروسته ووژل شول او یا مرګوني ټپیان شول.

د چه ګوارا په ټوپک کې مرمۍ خلاصې وې ډېر په بې وسۍ ژوندی ونیول شو په پخښو کې یې دومره د مرمیو ټپونه و چې په خپل پوره قوت هم درېدای نه شوو.

چه ګوارا یوه ورځ وساتل شو ترڅو په کیوبا کې د انقلاب او ورته نور اړین معلومات تې واخلي خو کله یې چې د هغه دریځ ولیده نو ویې لیدل چې د هغه له خولې هیڅ مالومات نشي-اخیستی ځکه یې په مرګ محکوم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چه ګوارا وروستۍ انځور دبولیوا په منګولو کې چه ګوارا بولیوا هیواد لاهیګر،ویګراونډ کې د یوه ښوونځي زړې ودانۍ ته یوړل شو کله چې افسران او جنګیالي د هغه د وژلو لپاره کوټې ته ورننوتل چه ګوارا په داسې حال کې چې لاسونه یې تړل شوي و د یو افسر په مخ لاړې تف کړې:



د چه ګوارا وروستۍ انځور دبولیوا په منګولو کې

او جلادانو ته یې په ډېره سپکه او غوصه ناکه لهجه وویل

زه پوهیږم تاسې دلته زما د وژلو لپاره راغونډ شوي یئ،

ډزې وکړئ ډارنو! تاسو فقط یو سړی وژنئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ګوارا ۱۹۶۷ز کال د اکتوبر په نهمه په بې رحمانه ډول په ډزو ووژل شو او دې زوږ انقلابي خپلې سترګې دتل لپاره پټې کړې.دوښمنانو يې د ارامۍ ساه واخيسته او دوستانو يې له خپلو ځانونو وپوښتل: ايا چه ګوارا په ريښتيا مړ شوی دی

خو سباني ځرک وښوده چې نه اتلان هيڅکله نه مري،

هغوي که مري هم خو افکار او ايډالوژي يې ژوندي پاتې کيږي. د چه ګوارا له مرګ وروسته هغه ډېر لارويان او تګلاري پيدا کړل په نړۍ کې انقلابونو زور واخيست ډېر هيوادونه له انحصار او ظلم خلاص شول او دا هغه ارمان و چې چه ګوارا يې په بدل کې مرګ هم قبول کړ.

د چه ګوارا د مرګ وروسته د کيوبا هيواد ولسمشر-(فډرال کاسټرو) وويل: (په ژوند کې دوو پيښو ډېر زيات غمجن کړم يو مې د مور د مړينې خبر او بل د ملګري چه ګوارا د مرګ خبر.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د چه ګوارا لاش چيرته ده کالونه نه وو مالوم خو کلونه وروسته يوه بوليوايي جنرال چې د چه ګوارا د مرګ په وخت حاظر و، د هغه ځای وښود چيرته چې دده لاش خښ شوی و.

چه ګوارا جسد کيوبا ته وليږدول شو او په سانتا کلارا کې خاورو ته وسپارل شو.




د ګوارا انځور په يو بيرغ چې "چه ژوندی دی"

هغه کس چې چه ګوارا يې وژلی و په ۲۰۰۶ز کال کې د يوې ناروغۍ له امله مړ شو.

چه ګوارا د کيوبا لپاره د يو ملي قهرمان حيثيت لري، دده سره ډيره مينه لري او انځور يې يې ددې هيواد سيکو ته ښکلا ور کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بولیوا کې چرته چې دی وژل شوی هغه مکتب اوس په یوه موزیم بدل شوی او په دیوالونو یې د ده عکسونه لګولي، چه ګوارا د خلکو په زړوتو کې ژوندی دی د نړۍ نورو مشهورو مبارزینو او پوهانو هم چه ګوارا د قلم او مبارزې سرې ګڼلو.

دی که څه هم په ځوانۍ  کې مړ شو خو ډېر واټونه یې په نوم شول،فلمونه پرې جوړ شول.

د نوموړي په اړه یوازې په سویډن کې له ۳۰۰څخه زیات کتابونه ولیکل شول.

یو امنیتي غړي (فلیکس رودردکس)C.I.A په ۲۰۱۴ز کال کې د

چې د ګوارا په نېولو او وژلو کې موجود و، داسې وایي.

۱۹۶۷ز کال د اکتوبر میاشتې چې چه ګوارا بندي و ورسیدو دی د یوې ښوونځي په زړې ودانۍ کې و مونږ ټول کوټې ته ورننوتو دی په ځمکه پروت و مخې ته یې خپل سرتېرې چې په جګړه کې وژل و پراته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چه ګوارا نېونه د متحده ایالاتو لپاره له کودتا نه کمه نه وه

زه د ملګرو سره په بله کوټه کې ناست وم چې د بولیوا له ستړې قومندانۍ ځخه زنګ راغی، غوږی مې اوچته کړه هلو مې وویل د انکشاف په نوم یې یوه ساده کوډ

۵ ۰ ۰

او۰ ۰ ۶ وویل مخکې له دې چې مکالمه پرې شي ما ورنه پوښتنه وکړه چې په دې کوډ زه پوی نه شوم څه مانا؟ راته ویې ویل چی ۰ ۰ ۵د چه ګوارا د نوم کوډ

او ۰ ۰ ۶وژنه یعنی ویې وژنئ او زنګ کټ کړ.

ماسپخښین دوه بجې وې چې زه چه ګوارا ته ورغلم او ورته مې ویل ما خپله هڅه وکړه.ده راته وویل:ښه به دا وای چی ژوندی نه وای نېول شوی. ورنږدې شوم ده راته وکتل فکر یې کاوه چې زه یې وژنم. زه له هغې کوټې چې ګوارا پکې ساتل شوی ووتم چې ډله جنګیالي ورننوتل.او د ډېرې ډزو غږونو مې واورېدل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فېډرال کاسټرو

## ( د چه ګوارا تر ټولو نږدې انقلابي ملګرى )

فېډرال کاسټرو په ۱۹۲۶ زیږدیز کال په کیوبا کې زیږیدلی دی، زده کړې یې په هوانا پوهنتون کې ترسره کړې دي،د ده په وخت کې د کیوبا د حکومت واک د (باتیستا) چې د امریکا یوه متحده دیکتاتور وه په لاس کې وې،

په ۱۹۴۰ زیږدیز کالونو کې یې د حکومت راپرځولو لپاره په پلان او مبارزه لاس پورې کړ په ۱۹۵۳ زیږدیز کال کې کاسټرو د خپلو ۱۵۰ ملګرو سره په باتیستا حمله وکړه چې حمله یې ناکامه او کاسټرو پپ پنځلس کاله بند محکوم شو، تقریباً دو کاله وروسته په ۱۹۵۵ زیږدیز کال کې د باتیستا سره په یو تفاهم په اساس له بنده خلاص او مکسیکو ته سفر وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته يې له (چه ګوارا) سره وليدل او د باتيستا نظام د راپرځولو لپاره يې د چيريکي جنګونو پاليسي غوره کړه نوموړي بيا کيوبا ته راستون شو او د چه ګوارا په ګډون يې دکيوبا باتيستا نظام وران کړ.

هغه په ۱۹۵۹ زيږديز څخه تر ۱۹۷۶ زيږديز کال پورې د کيوبا هيواد لومړی وزير و چې وروسته بيا نوموړي له ۱۹۷۶ زيږديز څخه تر ۲۰۰۸ پورې د کيوبا هيواد ولسمشر وه په ياده موده کې يې په کيوبا کې د پام وړ بدلونونه راوستل د، او کيوبا يې بيرته پړ ځان بسيا کړو چې دده له سترو کارونو څخه يو يې د ۱۰۰۰۰ نوي او عصري ښوونځيو جوړول وه چې له سواد کچه يې په ۹۸% ته پورته کړ

کاسټرو د کيوبا هغه انقلابي وو چې نه يې کمونيزم وشرموه او نه يې انقلاب بدنام کړ.

کاسټرو يو بريالی انقلاب ترسره کړ د انقلاب تر بريا وروسته يې دولتي اداري چور ته ورنه کړې او نه يې ښارونه ويجاړ کړل.

هغه انقلاب د خپلو خلکو د هوساينې لپاره وکړ نه د خپلوخلکو او مشرانو د وژلو او شړلو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاسترو په هغه شرايطو کې چې کيوبا هغه وخت زيات بنديزونه او واکمني وکړه په نشته وسايلو يې د خپلو هيوادوالو ډ سوکالۍ لپاره هڅې وکړې او د سړې جګړې د دوو لورو ترمنځ يې خپل خلک قربانۍ ته ورنه کړل.

د نوموړي پر ضد يوازې امريکا په لسګونو توطيې جوړې کړې. خو ونه توانيدل چې د نوموړي ژوند واخلي. د ده او چه ګوارا په امر په کيوبا کې د انقلاب څخه وروسته د هغه ځای تعليم يافته ځوانانو او پيغلو په رضاکارانه ډول د کيوبا لېرې پرتو سيمو ته سفرونه وکړل



۶۳۸ځلې يې امپرياليستانو د مرګ هڅه وکړله حتا په سګرټ کې يې هم ورته بمونه ځای پرځای کړل خو ونه توانېدل چې کاسترو ووژني ځکه چې کاسترو د ځان پخبر ويارلی او مبارز ملت لرلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو د لېرې پرتو سيمو ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته ښوونځي پرانيزي,او خپله شته پوهه دوې ته ور انتقال کړي چې ياد حرکت په کيوبا کې د علم د عاميدو او د بې سوادۍ د کچې په کميدو کې مهم او د پام وړ بدلون راوست.

کيوبا له انقلاب وروسته له بيلابيلو ستونزو او تحريمونو سره مخ وه خو دوې د زده کړې او تعليم ته تر هر څه لومړيتوب ورکړو.

کاسترو لاتيني امريکا کې د کمونيستي انقلاب ځلانده څېره وه چې دهغه په رهبرۍ په کيوبا کې صنايع او تجارت ملي کړل شول او د دولت سوسياليستي اصلاحات په ټوله ټولنه کې پلي شول

په ۲۰۰۸ ميلادي کال کې فډرال کاسترو سختې ناروغۍ له امله ولسمشرۍ واک خپل ورور ( راول کاسترو ) ته پريښود.

دا ستر انقلابي په ۲۰۱۶ زيږديز کال کې د ناروغۍ له امله په کيوبا کې مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

( فډرال کاسټرو ته د چه ګوارا اخري ليک )

فډل!

په دې شېبو کې ماته ډېرې خبرې رايادېږي کله چې د لومړي ځل لپاره زما تاسره ليدنه وشوه،او ماته دې د ملګرتيا بلنه راکړه هغه کړاوونه چې د چمتو کيدو وخت کې و ټول زما د ذهن په پرده انځور دي.

وروسته مو دا هم ومنله چې په انقلاب کې بريا او يا مرګ د يو مبارز تقدير جوړوي.د بريا پړاوو ته په رسيدو کې زمونږ ځينې ملګري د مرګ په غېږه کې په ابدي خوب ويده شول.

نن هر څيز نسبتآ کم ډرامتيک بريښي، ځکه مونږ د پخوا په پرتله زيات باشعوره شوي يو.

زه فکر کوم چې ما د کيوبا هيواد اوخلکو لپاره خپل مسؤليت ادا کړ زه له تاسو,ملګرو او ستاسې ولس نه چې زه يې خپل ولس وګڼلم؛ رخصت اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه په رسمي توګه د ګوند له رهبرۍ,قومندانۍ او ډګروالۍ له عهدې او د کیوبا له تابعیت نه استعفا ورکووم، له دې وروسته به د کیوبا سره هیڅ ډول قانوني اړیکه ونه لرم، پرته له هغو اړیکو چې زما روح یې له دې خاورې سره لري هغه اړیکې د مقام او دندې په ځېر په خپله خوښه نه پرېښودل کيږي.

د خپل تېر ژوند په رایادولو سره ډاډه یم چې ما په پوره اخلاص سره د انقلاب د بري د ټینګښت لپاره کوښښ وکړ، په دې برخه کې راڅخه فقط یوه تېروتنه شوې وه

هغه دا چې په تا مې هغومره انحصار نه و کړی لکه څومره چې په کار وو. هغه صلاحیتونه چې د انقلابي کیدو او مشر کیدو لپاره په تا کې موجود وه ما ډیر ناوخته وپیژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ نورو ولسونه زما ناچيزه فکري کاوشونو ته لبيک غږونه کوي,غوارم ووايم کې دا کار زما د خوښۍ او غم د ګډې جذبې په درلودلو سره کوم.

ما ډيرې ستړې ورځې وليدې.د بحران په ځوروونکو او له پريشانۍ ډکو ورځو کې ما له ولس سره خپل تړاو په احساس کې تاسره يو ځای وموند،ښايي ډير کم سياستوال دومره ځيرکه او هوښيار ثابت شي لکه هغو ورځو کې چې تاسو ثابت شوې يئ!

زه په دې وياړم چې ما پرته له کوم فکر او ترديد نه ستا امرونه پر ځای کړل ځان مې ستا له فکري طريقې سره برابر کړ،د خطر او ويرې په څپو کې مې اصولو باندې د ټينګ پاتې کيدو زړورتيا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اه مشره!

تانه زما د جدايۍ وخت راغلی، زه دلته د یو ملته لپاره د یو معمار تر ټولو سپیڅلي هیلي محبوب ملګري د اوښکو نه په ډکو سترګو او د خوښۍ په موسکا پریږدم چې زه یې د یو زوی په حیث منلی وم ددې احساس پرهر ډیر ژور دی,ما ستاسو رابخښلی ایمان او عقیده په خپله سینه کې ځای کړې ده

د خپل ولس په انقلابي ولولو سره سمبال د خپلې سپیڅلې فریضې د ادا کولو په ولوله او احساس سره د استعمار په وړاندې هر چیرته چې وې مبارزه کوم، او د جنګ نویو محاذونو ته ورځم چې په دې لار زه خپل ژور پرهرونه رغولی شم.

زه په دې خبره افسوس کوم چې خپلې میرمنې او اولادونو ته مې هیڅ شی نه دي پریښودلي ځکه ډاډه یم چې حکومت به د هغوې د زده کړو او لګښت غم وخوري.

مشره! کوښښ به وکړم چې زما د کړنو وروستې پایلې پاکې وي تا او ولس ته ډیرې خبرې لرم چې الفاظ یې له ویلي عاجز دي، او زه یې لیکلی نه شم. تل د فتحې په لور ګام ورته کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو ځل بیا وایم چې زه کیوبا له هر ډول مسوولیت څخه ازاده ګڼم, که زما د ژوند وروستیو شیبو د کوم بل هیواد تر اسمان لاندې ځای وموند،نو زما سوچ به د هماغه ولس د ازادۍ لپاره وي، ز ستاسې د روزنې او تعلیماتو مننندوی یم,

زه انقلاب تل د بهرنۍ پالیسۍ سره همغږی کړی یم او بیا به هم وم.

زه چې هر چیرته وم د کیوبا د یوه انقلابي په توګه به خپل مسوولیت احساس کوم

زه له ټولو حدمتونو سره تاته درغاړې ورځم ا خدای په اماني درڅخه اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (د چه ګوارا لیک د هغه اولادونو او مېرمنې ته)

(هيادا، اليدا، کامېلو، ارنيسټو او سليا) زما د زړه ټوټو!

کله چې تاسو دا ليک لولئ شايد لامل يې دا وي چې زه به نور ستاسو منځ کې نه وم، دې وخت کې شايد تاسو ته سخت درياد شم.

خو هغوی چې ماشومان دي زه به ورته بيخي ياد نه وم ستاسو پلار داسې شخص وو چې افکار او کارونه يې سرته ورته وو تاسې باور ولرئ چې ما مې له خپلو نظرياتو سره ټينګه وفا کړي.

هيله مند يم چې تاسو هم ښه انقلابيان

ووسئ، ترڅو مو چې وس رسيږي مطالعه وکړئ ترڅو هغه علوم چې تاسو په طبعيت برلاسي کوي زده کړئ دا مه هېروئ چې انقلاب ډېر ارزښت لري چې حتی انسان يې په وړاندې هيڅ دی

ترټولو مهمه دا چې تاسو ځان کې داسې وړتيا وروزئ چې د نړۍ په هر . ګوټ کې په انسان څه ډول ظلم کيږي هغه ژور حس کړئ او ژور يې وڅيړئ

په زړه کې مې ستاسو د ليدو هيله ټوپونه وهي زما ښکلو ګلانو کوچنيو پرېښتو له لېرې مو ښکلوم !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( د ملګري چه ګوارا سو ژوندۍ خبرې)

وطن فروشان یوه ستره ستونځه لري؛ هغوی وطن او ملت د ځان نه بولي نو ځکه غلا ترې کوي، نو بیا د غلا سره د بیګانه ګانو غېږې ته پناه وړي

دا بهتره ده، چې په ولاړې ومرې؛ له دېنه چې په ګونډو ژوند وکړې

ومره، خو؛ د حق او ضمیر سودا هیڅکله مه کوه ولې چې دا ستا سودا نه ده، دا د نسلونو سودا ده

خوشحالي کول یواځېنی غچ دی چې انسان یې له ژونده څخه اخیستی شي

یا نر دوست شه! یا نر دښمن!

خو په ژوند کې هیڅکله د چا چمچه کېږه مه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پۀ اوبو ولامبي؛ جامې بدلې کړي، چې پۀ خولو ولامبي تقدير بدل کړي او چې پۀ وینو ولامبي نو تاریخ بدل کړي

څوک چي وسله لري او فکر نلري؛ یوۀ ورځ به یا غل ترې جوړیږي، او یا به خپل وطن ورانوي.

دوي غوښتل چې مونږ خښ کړي، خو خبر نه وو چې مونږ تخم یوو

معشوقې ته! مینه درسره لرم خو د آزادئ په قیمت نه

مونږ د وفادارئ لرګی خوړلی هر څومره چې وفاداره واوسې هغومره به یوازې کیږې دلته اوس د لیوانو دوره ده

ما په هدیره کې د هغه خلکو قبرونه هم ولیدل چې د خپل حق لپاره په دې خاطر نه وجنګېدل، چې هسې نه ووژل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیوه وژړل کله یې چې ولیدل

چې سپی د یو هډوکي لپاره د شپون له خولې لغتي خوري

که دې د یوه احمق خوب درلود او خوب دې ورنکړ تا وګټله

زه د دې لپاره جنګېدلې یم؛ تر څو تاسو په ارامه ویده شئ، نه ددې په خاطر
چې د هوساینې مزاحمت مو وکړم

هغه چې تل تر تله وي نه ته یې او نه زه یم، هغه انسانیت دی

هغه عسکر چې خپل ولس پسې وسله اوچتوي، د ژوند وړتیا نه لري

چې وړیو ته خواړه برابروم ښه انسان یم؛ خو که د ولږې لامل یې پوښتم بیا
کمونیست ګڼل کېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو د خپلواکۍ ښوولو لپاره تابوتونه جوړ کړل او د مینې د محدودیت لپاره يې کرښې وټاکلې؛ خو دوی نه پوهېدل چې نه خپلواکي په تابوتونو کې ښښيږي او نه کرښې د مینې د لارې خنډ جوړولې شي

په دې ژوند کې ترټولو لوی خوند د هغه څه ترسره کول دي چې خلکو يې په " اړه ویلي" تاسو دا نشئ کولی

کله چې مچانو ته وښودلی شې چې ګلان تر کثافاتو ښه دي، مفسدینو ته به وښودلای شې چې وطن تر پیسو ښه دی

ربښتینی رهبر تل د خلکو په زړونو کې یو خاص ځای لري او تل د خلکو په زړونو راج چلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل ټول عمر کې مبارزه کونکې خلک هیڅکله ماتې نه مني

که څوک غواړي چې بریالی مبارز شي نو باید له کتاب لوستلو زیار او کوښښ سره نه شلیدونکي اړیکه جوړه کړي

کله چې تروریست ، وژونکې او نالایق کسان حکومت کوي دا د هوښیارو او بیداره خلکو وظیفه ده چي د دوی اطاعت ونه کړي

وطنونه د جنګونو لعنت ویلو او نورو ډېرو سپکو سپورو له لاسه نه ورانیږي، مګر د خلکو خیانت او جفا څخه وطنونه دړې وړې کیږي

زموږ لپاره سوسیالیزم د انسان لخوا د انسان د استثمار پای ته رسولو

"معنی لري"

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ نیټه معلومه ده، د هغه د مخه مو هیڅوک نسي وژلای، نو دې خپلو
حقوقو له پاره وجنګیږئ

د بې
عدالتۍ پرورېاندې مبارزه په مذهب، نژاد یا کومې فرقې پورې تړاو نه لري،
بلکې د انساني روح طبیعت چې د غلام کیدو څخه وساتل شي او د ازادۍ لپاره
هلې ځلې وکړې مبارزه یا مبارز بلل کیږي

پۀ اسانه مه تېرېږئ! له هغه ژونده چې یو ځل یې تجربه کوئ!

د آزادۍ لمر د غریبانو له کوڅو څخه راوتلی

ېوازې یو ځواکمن سړی او یوه لیونۍ میرمنه په مینه کې بریالی کیدلی شي

زه احمق نه ساده وم چې احمقانو ته مې اجازه ورکړه چې په ژوند کې مې
مداخله وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ یوازې د بدو خلکو په بدۍ نه، د ښو خلکو په خاموشۍ هم خفه کیږو

قانون باید د ټولو لپاره وي نه د څو کسانو لپاره ځکه چې بیا انقلابونه زیږوي

لېوان اوښکې نه تویوي؛

دوی چې بېخي ډېر وځوریږي، بېخي یې زړونه ډک شي او خبره تر زغم واوړي، د غرو سرو ته خېژي، هلته داسې کوکې وهي چې غرونه ورسره ریږدي

ددې لپاره چې یو څوک وګورئ، چې مړ دی که ژوندی، نو نبض او تنفس یې مه ګورئ؛ بلکې شرف او وجدان یې وګورئ

مرغۍ چې د ښکاري له ټوپک وډار شوه، هغه له لوړې مري

د رهبرۍ لومړی اصل دا دی چې لوېدلی ملت له ځان سره را پورته کړې، که ملت نشي راپورته کېدای، نو ته ور ټیټ شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما درد یوازېتوب ندی

بلکې د هغه ملت مرګ دی چې په ګدایي یې قناعت کړی

بې وسي یې صبر او د شونډو په سر دا حماقت د خدای (ج) حکمت ګڼي

...!!!

لاس مې د ګل بوی ورکاوه، زه یې د ګلانو د را شکولو په جرم محکوم کړم، خو هیڅ فکر ونه کړ، چې ښایي ما د ګل کوم نیالګی کېنولی وي

آزادئ ته د رسېدو له پاره، د یوه انسان رسالت په کتار کې درېدل نه، بلکې د کتار له منځه وړل دي

پوهېږم، په هغه شېبه کې چې د حاکم ستر روح ګوزار ورکوي، ترڅو ټول بشریت په دوه مخالفو ډلو ووېشي، زه به د عادي خلکو تر څنګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې رحمه مشر بدلېږي، ترڅو بل مشر بې رحمه شي

موږ نباید خلکو ته ورشو او ووایو: موږ راغلي یو، ترڅو تاسو تر خپلو وزرونو لاندې ونیسو او بېوزله پالنه وکړو یا خپله پوهه تاسو ته در وښایو، له لومړنیو مسایلو څخه ستاسو فرهنګ او ناپوهي او ستاسو تېروتنې تاسو ته در په ګوته کړو، پر ځای یې باید په ځېړنه ورکوونکي ذهن او کمینه روح سره، د خلکو د علم او پوهې له سترې سر چینې څخه ګټه واخلو

هغه ورځ زما اختر دی، چې د بزګر ( دهقان ) د یوه کال زیار او زحمت د پاچا د یوې ماښامنۍ لګښت نه وي

د انسانانو له نظر سپیان ګټور او وفادار حیوانات دي، خو د لېوانو له نظره سپیان هغه لېوان دي، چې غلامۍ ته یې غاړه ایښې، ترڅو آرامه او هوسا ژوند وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکې ته هیله من کېدل، غم وینځي

ژوند کووم، حتا که تر ټولو غوره څیزونه هم له لاسه ورکړم، ځکه دا ژوند کول دي، چې نور غوره څیزونه را ته جوړوي، پرېږدئ هرڅه چې له لاسه ځي لاړ دې شي، زه هغه غواړم، چې په عذر او زاریو باندې ککړ نه وي حتا ژوند هم

آزادي تر ټولو ډېره د هغو کسانو له خوا ګوزار خوري، چې هغې ته د رسېدو له پاره لنډه لار ټاکي

که چیرې د نړیوالې سولې غوښتونکي یو، ګډ سوله ایز ژوند نباید په ځواکمنو هېوادونو پورې محدود شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ولسمشره! زه دلته د څه ویلو لپاره نه یم راغلی، زه دلته د انسانانو د مساوي او عادلانه حقوقو د تامین لپاره راغلی یم

که څوک غواړي چې انقلابي شخصیت جوړ شي اولین شرط یې دادی چې باید ډېره مطالعه ولری

ټول خلک چې سهار له خوبه پاڅي خپل ویښتان سموي خو خپلو زړونو ته د هیچا ورپام نه وي

دا خواشینونکی حالات وي که ملګری مو نه درلود خو که دوښمن مو نه درلود رښتیني نه یاست

پرېږدئ چې نړۍ لومړی تاسې بدل کړي، بیا به تاسو نړۍ بدله کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په یوه لاره تاسو له ستونزو او مشکلاتو پرته روان یئ او هیڅ کوم خنډ سره
پکې مخ نه یاست؛ ممکن تاسو لاره غلطه کړې وي

زما لپاره د یو عادي انسان ژوند، د نړۍ ترټولو شتمن سړي سرمایې څخه یو میلیون ځله غوره دی

زه له غورځیدلو نه ویریږم خو که څوک پیدا شي چې زما د مرګ وروسته زما ټوپک اوچت کړي او ډزو ته دوام ورکړي

په خپلو اصولو خپله ژوند وکړئ، هیڅوک حق نه لري چې ژوند مو دروښیي

هر انسان په زړه کې یو حقیقت لري خو مهمه نه ده چې هر چاته دې یې ووایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله ژوند د بریا په لمانځلو نه بلکې د ماتې سره په مبارزه کې تېر کړه

رښتیني انسانان ځان په ستېج نه بلکې عمل کې ښیي

دلته انسان ځان د خپل چاپېریال غلام کړی، دا هر څه باید بدل شي

ته تللی یې او زه دلته یوازې په دې هیله ساه اخلم چې په هرې ساه سره تاته نږدې کیږم، دا زما ژوند دی

د انقلاب راوستلو لپاره رښتینو او وفادار ملګرو ته ډېره اړتیا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د نړۍ په هر کونج کې ظلم کيږي هغه احساس کړئ، او د ظلم پر وړاندې د مظلوم ملګرتيا وکړئ

هغه زړه چې د بې کسۍ له کبله يوازې دی؛ کولای شي هر څه وزغمي

که په دې باور ولرو چې بې مبارزې به ازادي ترلاسه کړو؛ مونږ غلط يو!

د لوړو زده کړو ترلاسه کولو لپاره بايد شرايط اسان شي ترڅو غريبان هم وتوانيږي چې زده کړې وکړي

شرف لرونکی لوړ رتبه فوځي افسران تل دفتر کې نه وي ناست، بلکې د جګړې ميدان ته ورځي او له خپل ولس څخه دفاع کوي

ماته ډېر خلک وايي چې ته بيخی بل ډول يې، خو زه حيران يم ولې هغه چاته چې حقايق سپيړي بل ډول ويل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما هیله ده او پوهیږم چې زما پای کې پیل دی

د ډېر څه د لاسته راوړلو لپاره باید ډېر څه وبایلې

دا صحي ده چې پولیس د وطن او ولس څخه دفاع کوي سر یې په لاس کې اخیستی دی خو ددې نو دا مانا نه ده چې دوي دې د ربړیو واله څخه مفتې مېوې وړې او سر دې نه خلاصوي

زه له مرګ څخه نه وېرېږم خو په داسې هیواد کې به ومرم، چې هلته د قبر کیندونکي مزدوري د ازادي تر قیمت لوړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ربښتیني انقلابي هلته خدمت کوي چې ورته اړتیا وي

که په یو وخت کې ازادي او عدالت ون لرم او زه مجبور شم چې له دې دوو څخه یو انتخاب کړم زه به ازادي انتخاب کړم ترڅو په بې عدالتۍ نیوکه وکړی شم

انقلاب مڼه نه ده چې له پخېدو وروسته به را وغورځي، باید مونږ یې غورځېدلو ته اړ کړو

که یو انسان بل انسان ووژني هم انسان پاتې کیږي که څه هم قاتل دی. خو انسان چې د انسان په وړاندې په غلامۍ ټیټیږي نور نو ورته انسان نه شو ویلای

دوی یو ګل وژلای شي خو پسرلی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې کله په حقایقو پوه شوم، نو ډاډه شوم چې زما تقدیر سفر ده

که مونږ داسی څه/څوک لرو چې د هغه لپاره ژوند کوو، نو باید دهغه د دفاع لپاره مرګ هم ومنو

کوم ملک چې تاریخ ته لېوالتیا نه لري حافظه یې کمزورې او مغز یې احساساتي وي. ځکه خو د خپل مشر-په ټاکنه کې دوکه کیږي دوي حتی په دې هم نه پوهیږي چې څوک یې کاروي او د څه لپاره یې کاروي؟

ولسونه په وژلو نه ختمیږي خو که خلک او ځوانان یې خپل تاریخ هېر کړي؛ ولس یې پخپله ختمیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرته یو شخص د ټولنیز تکامل لپاره را پورته کيږي او د ډېر وخت را په دېخوا دې ټولنه کې ظلم شتون ولري نو اړ دی چې د غټې حوصلې قوي هوډ او ارادی ترڅنګ ژوره هم مطالعه ولري

د هر چا سره مو چې ښه یا بد کول؛ په دې تمه يې مه کوی چې انسان مې ويني بلکې يوازې دا فکر وکړئ چې خدای مې ويني او يو وخت ورسره خامخا مخ کيږم

دولتي دنده او اداري کارونه کولای شي چې یو انقلابي خوښوونکی، بې فکره او فاسد کړي

سپی لومړی لېوه وو خو کله چې يې د تمې ځنځير په غاړه کړ نو سپی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي چې د واکمنو او او مشرانو لخوا وظيفې ترلاسه کوي؛ هیڅکله د انقلاب ملاتړ نه کوي

د یو عادي انسان په حیث که ملګري ونه لرې تاسف ځای دی خو د یو مبارز په حیث که دوښمنان ونه لرې نو دا مانا چې ته یو محافظه کاره شخص یې!

یو انقلابی یا مړ کیږي او یا هم بریالی کیږي دریمه لار(ناکامي) نه لري څوک چې دریېمې لارې ته ووتل هغه مبارز نه دي

چرته چې ازادي نه وي هلته انسانیت هم تر پښو لاندې کیږي

کله دې چې د دوښمن په غاړه کې وسله وي او خبرو ته نه درسره کیني بیا باید ته هم ورسره وسلوال انقلاب شروع کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه کې دومره درد لرم که ویې وایم ژبه به مې وسوزیږي

په خبرو یې سر نه خلاصیږي پاڅیږه په عمل کې یې ورته ثابت که

دا نړۍ نصیحتونو ته اړتیا نه لري بلکې یوه قوي مشر او انقلاب ته اړتیا لري ځکه احمقان په خبره نه پوهیږي

هغه خلک چې دونیا کې یوازې دځان لپاره ژوند کوي له هغو خلکو سره هیڅ توپیر نه لري چې دې نړۍ کې نشته او مړه دي

د جاهل قوم خېرخواه جوړېدل هم د خودکشۍ یو ډول دی

ستعمار په ماتې باندې محکوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استعمار د درجې په لوړېدو سره هره شېبه د انقلاب حس پیاوړی کیږي

سکوت هغه استدلال دی چې بله مانا ورکوي

مغرور اوسه او تل مسکا کوه! پرېږده چې خلک ستا د غرور او موسکا علت پسې ورګرځي

زمونږ باید هره ورځ په مبارزه کې تېره شي ترڅو د انسانیت سره خپله مینه ثابته وساتو

راځئ تل رښتیني او وفادار ووسو او ناشونې کارونه وکړو

که مو پیدا کړل چې ټولنه له چا/څشي ډېره ځوریږي نو همدا یې اصلي ناروغي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چرې ته یو انقلابي وې په یوځای له دوو شپو ډېر وخت تېرول کمعقلتوب دی

زما لپاره ربښتیني ملګری او مبارز هغه دی چې د انسانیت ستونزه او مشکلات خپله شخصي ستونزه وګڼي

زما په اند تاسو به ټول پوهېږئ چې دې نړۍ کې هر څه چې شته دي یو قیمت لري د ازادۍ قیمت مرګ دی او زه په خپل مرګ هم ددې قیمت اداکولو ته تیار یم

کله چې دولت بې انصافه شي نو ظلم او جبر د ضالمانو له خوا څخه شروع شي

چې کوم هیواد کې په کومه خاوره کې په کوم قوم باندې ظلم کیږي هلته مزاحمت فرض دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ته چرته انقلابی وې په هرچا باور مه کوه ان په خپل سیوري هم

که چرته ته یو انقلابي وې نو تل ویښ ووسه ځکه هر ځای کې دې د نیولو خطر شته

څارنوال: په السوادور کې دې څه کول

چه ګوارا: لمر ته مې بدن ګرمولولو

څارنوال: نو بیا دې د پارلمان ودانۍ ولې ونړوله

چه ګوارا: ځکه چې زما نه یې د لمر وړانګې پناه کړې وې

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

CHEGUEVARA.COM

HEY-CHE.COM

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**